بیانیۀ جلالتمآب حضرت عمر زاخیلوال

وزیر مالیۀ جمهوری اسلامی افغانستان

در حضور مشرانو جرگه

هنگام تقدیم بودجۀ ملی سال 1390 هـ ش

د مشرانوجرگي جلالتمآب رييس صاحب مشرتابه پلاوی، درنو سناتور صاحبانو، په پارلمانی امورو کی د دولت وزير ښاغلی همايون عزيزی:

وياړ لرم چی د اساسی قانون د ۹۸ مادی سره سم تاسو د افغانستان د مشرانو جرگې درنو غړو ته ملی بودجه وړاندی کوم.

ملي بودجه هغه اساسي وسيله ده چې په مرسته يې حکومت خپل سياست ته عملي بڼه ورکوي، هغه وسيله چې موږ کولای شو خپلو خلکو ته خدمتونه وړاندې کړو، هغه وسيله چې موږ ته اجازه راکوي چې خپل ملت ته ثابته کړو چې حکومت اوپارلمان کولای شي کوچني سياسي ملحوظات يو خوا پرېږدي او په گډه د ولس د سوکالی له پاره هڅې وکړي.

* * *

په ۱۳۸۹ کال کي موږ د پام وړ برياوې درلودلې. په دې کال کې زموږد اقتصاد وده اوه اعشاريه څلور په سلوکې وه او زموږ وړاندوينه دا ده چې په راتلونکو کلونوکې به د ودې همدا کچه وساتو. دا وده کولای شي چې په اوږده مهال کې زموږ خلک د فقر له منگولو څخه راوباسي او د سولې اوسوکالی په لور د پرمختگ له پاه لار هواه کړي.

زموږد ارزونو پر بنسټ موږ داډه يو چې که خدای کول زموږکورني عوايد به سږکال تر پينځه اويا مليارده افغانيو پورته وي چې دا رقم زموږ د عادي بودجې په سلو کې ۶۵ تمويلوي. د دې پرمختگ عمده عوامل هغه ژور اصلاحات دي چې د ماليې وزارت پيل کړي دي چې د مالياتو د بنسټ پراختيا، د ماليي ورکولو د اصولو ښه تطبيق، د مالي ادارې د ظرفيتونو لوړول او د لويو او منځنيو ماليه ورکونکو له پاره د خاصو دفترونو ايجادول يې غوره بېلگې دي. دا اصلاحات به زموږ هېواد د مالي ثبات او اوږد مهالي مالي خپلواکۍ لوري ته پر مخ بوځي. که خدای غوښتي وو او د حکومت په منځمهاله لومړيتوبونو کې ژور بدلونونه را نه شي نو موږ هيله لرو چې د مالي ثبات په برکت به په ۱۳۹۴ کال کې د خپلې عادي بودجې نېږدې ټوله له خپلو کورنيو عايداتو څخه تمويل کړو.

## د ۱۳۹۰ کال ملي بودجې ته اجمالي نظر

د ۱۳۹۰ کال ټوله بودجه،د عادي بودجې اوانکشافي بودجې په شمول، ۲۱۵،۹ ملیارده افغانۍ چې شاوخوا ۴،۵۹۳ ملیارده ډالره کیږي اټکل شوې ده. د اصلي بودجې کسر ۱،۱۵ ملیارده افغانۍ یا ۲۴،۵ ملیونه ډالره دی چې اختیاري پروژو سره تړلی دی.

## عواید داخلی و بودجهٔ عادی

- عواید داخلی سال 1390 تقریباً 93 ملیارد افغانی یا 1,978 ملیارد دالر تخمین گردیده که به نسبت سال 1389 که ۷۱ ملیارد افغانی پیشبینی شده در حدود ۲۵ درصد افزایش را نشان میدهد.
- مجموع بودجهٔ عادی سال 1390 تقریباً 150 ملیارد افغانی در نظر گرفته شده که 25 درصد بیشتر از بودجهٔ عادی سال 1389 (که 119,8 ملیارد افغانِی بود) میباشد.
- از جملهٔ 150 ملیارد افغانی بودجهٔ عادی 83,3 ملیارد آن از عواید داخلی تمویل میگردد و 66,7 ملیارد آن از مساعدت های دونرها تأمین میشود.
- معاشات بیشترین بخش بودجهٔ عادی را (یعنی 75% آنرا) تشکیل میدهد. خدمات با 15% در قدم دوم و کودهای احتیاطی با 9,6% در قدم سوم قرار دارند.
- عامل عمدهٔ رشد بودجهٔ عادی همانا ازدیاد تشکیل در سکتورهای معارف وامنیت میباشد که بالترتیب وزارت معارف با استخدام ده هزار معلم، پولیس ملی با استخدام بیست و دو هزار پرسونل جدید و اردوی ملی با استخدام چهل و دوهزار پرسونل تازه از آن بهره مند میشوند. همچنان در این ازدیاد تطبیق سیستم جدید رتب ومعاشات بر بیش از 80 هزار تن مامورین ومعلمین دیگر شامل میباشد.
- سکتور امنیت بیشترین بخش بودجهٔ عادی (57,6%) را تشکیل میدهد که به تعقیب آن معارف با 16,7%، حکومتداری با 6,6%، ادارهٔ اقتصاد با 2,6%، زیربناها با 2,5%، صحت با 1,7%، زراعت با 1,1% و خدمات اجتماعی با 1,1% قرار میگیرند. (البته اینها تنها بودجه عادی وزارتهای شامل این سکتور است و شامل بودجه انکشافی نمیباشد)

**بودجۀ انکشافی**

- مجموع بودجۀ انکشافی سال 1390 مبلغ 65,8 ملیارد افغانی یا 1,4 ملیارد دالر در نظر گرفته شده است. این مبلغ شامل پروژه های جدید اعم از اختیاری و غیر اختیاری در حدود 34,9 ملیارد افغانی وپروژه های انتقالی بالغ بر 30,9 ملیارد افغانی میباشد. ولی وزارت مالیه را عقیده بر اینست که در ختم سالجاری حدود 30 ملیارد دیگر هم که مصرف شده نخواهد توانست به بودجه سال بعدی افزود میگردد که سطح آنرا شاید الی 100 ملیارد افغانی بلند خواهد برد.
- سطح تمویل پروژه های غیر اختیاری 49,4 ملیارد افغانی می باشد که 45,4 ملیارد افغانی مساعدت و 4 ملیارد قرضه ها را دربر میگیرد.
- تمویل پروژه های اختیاری در حدود 15,2 ملیارد افغانی بوده که 9,6 ملیارد آن از عواید داخلی، , 2,3 ملیارد از درک عواید پرداخت نشده معدن مس عینک و 3,29 ملیارد مربوط پروگرام تشویقی صندوق امانتی بازسازی افغانستان برای اصلاحات میباشد.
- بیشترین سهم بودجۀ انکشافی 35% (۲۳ ملیارد افغانی) به سکتور زیربناها اختصاص یافته، 24% (۱۶.۵ ملیارد افغانی) به سکتور زراعت، 13,7% (۹ ملیارد افغانی)به معارف، 9,8% (۶.۴ ملیارد افغانی) به صحت، 6,4 فیصد (4.2 ملیارد افغانی) به ادارۀ اقتصاد، 4% (2.6 ملیارد افغانی) به حکومتداری، 1% (0.6 ملیارد افغانی) به امنیت و 1% (0.7 ملیارد افغانی) به حمایت های اجتماعی اختصاص یافته است.

موږ ښه پوهېږو چي د بودجي تطبیق لا تراوسه زموږ له پاره یوه جدي ننګونه ده. علتونه یې ډېر دي، له امنیت څخه نیولې، د تطبیق تر ظرفیت، د پارلمان له خوا په وخت سره د بودجی نه تصوبیول، د مالی کال په حمل کی پیلیدل، د اداراتو د پلان جوړولو تر کمزورئ او د کال په اوږدوکې د ډونرانو د لومړیتوبونو تر بدلېدا پورې. خو موږ تر وسه وسه کوښښ کوو چې په راتلونکي کې د بودجې د تطبیق کچه لوړه کړو.

- د دې بودجې د جوړولوپر مهال د ټولو اداراتو د تېر کال لاس ته راوړنې اود راتلونکې له پاره د هغوی ژمنتیا په نظر کې نیول شوې دي. په نتیجه کې انکشافي بودجه د ۱۳۸۹ کال په تناسب ټیټه ده خو دغه بودجه تر پخوا ډېره واقعبینانه، عملي او مسوولانه طرح شوې ده.
- موږ د ټولواداراتو د ارزولو یو پروسه پیل کړې چې معلومه کړو چې په راتلونکې کې څرنګه کولای شو د بودجې د تطبیق ظرفیتونه لوړ کړو.
- د پلان شوې اوعملي شوې بودجې په اړه زموږد شفافیت سیاست به هېوادوال د دې جوګه کړي چې د وزارتونو د کړنوپه اړه ښه حساب وغواړي.

موږ د بودجې د پلان کولو له پاره یوه داسې تګلاره غوره کړې چې تمرکز په کې د امکاناتو د مصرفولوپر ځای د نتایجو پر لاس ته راوړلو کېږي.

پر انکشافي لګښتونود ډونرانو پراخه کنټرول موږ دې ته اړباسي چې له نړیوالې ټولنې سره د بودجې په جوړولوکې له نیږدې کار وکړو. د کابل په کنفرانس کې حکومت وکړای شول چې له ډونرانو څخه ژمنه واخلي چې په سلوکې پنځوس لګښتونه به د حکومت له لارې کوي اوپه سلوکې اتیا لګښتونه به د افغانستان د حکومت د ملي لومړیتوبونو له پروګرامونو سره په موافقت کې کوي. ډونرانو په خپل وار له موږ څخه غوښتنه درلوده چې موږ د پروژو په اړه د حساب ورکولو په برخه کې پرمختګ وکړو.

* * *

بودجه ایکه من افتخار تقدیم کردن آنرا به حضور شما عالیجنابان دارم بیانگر اجندای پیشگام حکومت برای رشد اقتصادی درازمدت و تخصیص منابع بر اساس اولویت های ملی چنانچه در استراتیژی انکشاف ملی افغانستان تصریح شده میباشد.

توسعۀ زیربناها سهم حیاتی در رشد اقتصاد ما دارد زیرا رشد اقتصادی را تقویه نموده، باعث ایجاد اشتغال در کوتاه مدت و گذاشتن اساس سالم برای رفاه دراز مدت میباشد. مصارف درین سکتور ادامۀ دستآوردهای قابل ملاحظۀ قبلی، به شمول تهیۀ 650 میگاوات برق برای مردم و صنعتکاران کشور و بازسازی سیستم آبیاری درسراسر کشور، میباشد. پلان های ما برای سال آینده وصل کردن دوردست ترین نقاط کشور را با دیگر نقاط در داخل و خارج از طریق احداث سرک ها، راه آهن و خدمات انترنتی سریع در بر میگیرد. در

بخش معادن نیز زمینه جهت جذب سرمایه گذاری خارجی در این اواخر آماده شده است که از جمله آنها عقد قرارداد مس عینک میباشد که بیشتر از 8 ملیار دالر امریکایی در این معدن سرمایه گذاری خواهد شد، و همچنان معدن آهن حاجیگک از طریق رقابت آزاد بین المللی اعلان شده است که تا فعلاً بیشتر از 20 کمپنی معتبر جهانی اظهارعلاقمندی نموده است که در جریان سال 1390 قرارداد آن با کمپنی برنده عقد خواهند شد. در بخش احیای چاه های گاز شبرغان کمپنی مشورتی استخدام شده است و کار استخراج گاز شبرغان در سالهای آینده عملاً شروع خواهد شد که جهت تولید برق حرارتی و فابریکه کود کیمیاوی به کار خواهد رفت. سروی ایکه در این اواخر توسط وزارت دفاع امریکا صورت گرفته است، 6 معدن دیگر بزرگ "مس، طلا، آهن و دیگر مواد قیمتی" کشف شده است که بعد از تصویب شورای وزیران به اعلان سپرده خواهد شد.

هشتاد درصد مردم ما هنوز هم بر زراعت و صنایع روستایی تکیه دارند که ازین جهت حمایت حکومت درین بخش ها برای رفاه مردم و رشد اقتصاد ارزش حیاتی دارد. مصارف درین سکتور حکومت را قادر خواهد ساخت که به اهداف خویش در فقرزدایی و معیشت بهتر درین ساحات نایل آید. وجوهیکه از جانب حکومت در این ساحه سرمایه گذاری میشود مکمل فعالیت هایی خواهد بود که از جانب همکاران ما در ساحهٔ انکشاف دوشادوش بزرگان محلی ولایات وولسوالی ها براه انداخته شده.

امنیت هم لا تر اوسه زموږ له پاره یوه ستره ننګونه او د حکومت له لومړیتوبونوڅخه دی. دا بودجه به موږ د دې جوګه کړي چې د ملي اردو د پرسونل شمېره تر ۱۹۲۰۰۰ تنو اود ملي پولیسود منسوبینو شمېره تر ۱۳۴۰۰۰ تنو پورې ورسوو. په دې برخه کې د حکومت د بودجې تر نیمايي زیات مصرف د ولس د امنیت اومصوونیت په برخه کې د حکومت پر ژمنتیا ګواهی وایی. خو یوازې د امنیتي پرسونل د شمېر ډېرېدل نه شي کولای چې نا امنو سیموته د ښې حکومت داری په ورغځېدلو کې اغیزمن ثابت شي. له همدې امله موږ د کورنیو چاروزارت ته د ملي پولیسو د مسلکي کولو له پاره هم مالي امکانات په نظر کې نیولي دي.

موږ د خپلو ماشومانو اود خپل هېواد د راتلونکې په خاطر د پوهنې په برخه کې خپلې پراخې پانګونې ته دوام ورکوو.زموږ تېرې لاس ته راوړنې دا دي چې د ښوونځیود شاګردانو شمېر

مو چې په ۱۳۸۷ کال کې ۶،۳ ملیونه تنه و په ۱۳۸۹ کال کې۷،۴ ملیونوته ورسېد، د اسلامي تعلیماتو د زده کوونکو په شمېر کې شل په سلو کې اوپه مسلکي زده کړو کې اتیا په سلوکې ډېروالی راغلی دی. زموږ د ښوونکو شمېر په ۱۳۸۷ کال کې ۱۴۶۰۰۰ و چې سږکال دغه شمېر ۱۷۰۰۰۰ ته پورته شوی دی. په دې ساحه کې لګښتونه به حکومت ته اجازه ورکړي چې د هېواد په ټولو برخو کې د شمولیت کچه لوړه کړي، ښوونکوته مسلکي ټرېننګونه ورکړي، ۷۷ نوې مدرسې، ۲۵ نوي مسلکي ښوونځي ایجاد کړي اود ۷۰۰ ښوونځیو له پاره نوې ودانۍ جوړې کړي.

* * *

درنو سناتور صاحبانو،

دغه بودجه چې زه یې ستاسې حضور ته د وړاندې کولو ویاړ لرم د افغانستان په شرایطو کې خورا مناسبه بودجه ده. زموږ د هېواد په معاصر تاریخ کې به دا لومړی ځل وي چې د بودجې د جوړولو له پاره په دومره پراخه کچه مشورې شوې دي. په دې بودجه کې د ملي لومړیتوبونو او سیمه ییزو اړتیاوو ترمنځ انډول په نظر کې نیول شوی دی او مالي منابع هغو ادارو ته خاصې شوې دي چې د استعمالولو وړتیا یې لري.

یو وار بیا اجازه غواړم ټینګار وکړم چې د حکومت او ملي شورا ترمنځ ګډ کار او ښه تفاهم د هېواد او خلکو په ګټه دي. د بودجې تصویب به موږ ټولو ته یو ښه فرصت وي چې خپل ملت ته ډاډ ورکړو چې دولت په مجموع کې ملي منافع تر بل هر ډول ملحوظاتو لوړی ګڼي. زه ستاسې له درانه حضور څخه هیله کوم چې د دې بودجې کلک ملاتړ وکړئ.